education above all | التعليم فوق الجميع

## زما د ځارویو پارک

| | |
|---|---|
| **توضیحات** | زده کوونکي به خپل د ځارویو پارک ډیزاین کړي، ترڅو دا زده کړي چې ځاروي باید د مشترکو صفتونو پر اساس سره یو ځای شي. تر څو د حیواناتو په نړۍ کې پر طبقه بندۍ باندې پوه شي . |
| **مخکښنه پوښتنه** | ځاروي به په یو پارک یا ساتنځای کې څنګه سره تنظیموئ؟ |
| **د اړتیا وړ بشپړ وخت** | **۵،۳** ساعتونه د ځلورو څخه په زیاتو ورځو کې |
| **د اړتیا وړ توکي** | کاغذ، رنګه قلمونه، قلم، پنسل او قیچي ګاني |
| **د زده کړې پایله** | 1. سواد: د لوستلو او لیکلو زده کړه<br>2. سواد: د لغت ذخیره ـ د حیواناتو نومونه، استوګنځایونه، پارک، پټنځایونه، د خوړو سلسه، مصرف کوونکی، تولید کوونکي، ښکاري، ټول خوړونکي، غوښه خوړونکي، تطابق<br>3. بیالوژي: د مشترکو صفتونو یا استوګنځایونو پر اساس د حیواناتو طبقه بندي<br>4. بیالوژي: د خوړو سلسه او د مصرف کوونکو ډولونه<br>5. بیالوژي: د ځارویو حقونه او اخلاق<br>د پریزنټېشن مهارتونه |
| **د اړتیا وړ مخیکني بوهه** | - د زده کړې په ژبه کې د لیک او لوست وړتیا درلودل یا لږ تر لږه د الفبا سره بلد اوسېدل<br>- د ۲۰ ځارویو په اړه پوه |

## لومړی ورځ

نن به تاسو د دې په اړه پوه شئ چې ځاروي په کومو مختلفو ځایونو کې ژوند کولی شي او څنګه یې طبقه بندي کړو.

| وړاندیز شوې موده: | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| **۵-۱۰ دقیقې** | |

معرفي: د دغه پروژې هدف دا دی چې د حیوانانو یو پارک ډیزاین کړو چې په هغه کې څاروي په مختلفو طریقو یو ځای شوي وي.

- د زده کوونکي څخه پوښتنه وکړئ چې د پارک او ژوبڼ تر منځ فرق څه شی دی. کولی شئ چې په هېواد کې شته پارک ته اشاره وکړئ. که د عملي کېدو وړ وي، تشریح ورکړي:

  - څاروي په ژوبڼ کې په قفسچو کې اچول شوي وي او کافي ځای نه وي چې په ازادانه ډول ورگرځي. کیدای شي ژوبڼ څاروي وپلوري او یا یې هم وپېري. د څارویو پارکونه ډېر باز وي دوی کولی شي ډېر په آزادانه شکل په هغه ځایونو کې قدم ووهي چې د دوی اصلي کور ته ورته دي. په پارکونو کې څاروي نه پلورل کېږي له هغو څخه ساتنه کېږي.

- د زده کوونکي څخه پوښتنه وکړئ چې څه فکر کوي چې ژوبڼ ښه دی او که پارک.

- بدیل: که چېرته زده کوونکي په دې نه پوهیږي چې ژوبڼ یا پاک څه ډول ځای دی، دا به آسانه وي چې له دوی څخه وغواړئ چې داسي یو ځنگل رسم کړئ چې لږ تر لږه درې د استوگنې (هغه ځای چې حیوانات پکې ژوند کوي) ځایونه ولري.

وړاندیز شوي استوگن ځایونه

- هغه سیمه چې ډېرې ونې ولري ـ یوه آزاده سیمه چې هلته ډېر شنه وي.
- هغه سیمه چې هلته جهیل، حوض او یا هم نورې اوبه وي.

**۳۰ دقیقې**

زده کوونکي به د خپلو کورنیو سره لاندې لوبه وکړي تر څو د هغه ځارویو په اړه فکر وکړي چې دوی يې په ځنګل کې غواړي.

- په يوه ورقه کې به زده کوونکي د هغه ژبې الفبا وليکي چې پرېکړه مو کړې چې پروژه پکې ترسره کړي. مثلاً A-Z.
- زده کوونکي به دا الفبا په جګ آواز ووايي. لکه (A, B, C, D, E...)او بل به يې په هر توري کې دروي. ټول زده کوونکي به بيا د داسې ځارويو په اړه فکر کوي چې هغه توري په کې راشي. د مثال په ډول، که چېرته زده کوونکي په E ودرول شي، هر لوبغاړی د هغه ځاروي په اړه فکر وکړي چې يا په هغه توری پيل شي او يا هم هغه پکه کې راشي. ( مثلا په فيل، مار او داسې نور چې په دې ټولو کې د E توري راځي).
- که چېرته زده کوونکي د زياتو حيوانانو په اړه تر اوسه نه پوهېږي، دوی اولې ضميمي ته کتلی شي او داسې يو ځاروی وټاکئ چې هغه توري په کې راشي.
- د دې په پار چې لا نوره آسانه شي، لوبغاړی کولی شي چې داسې نور واخلي چې يوازې هغه توري په کې راشي. مهمه نه ده چې په اول کې يې راشي. مثلا که هغه په E باندې ودرېږي، دوی د مار، تمساح او داسې نورو نومونه اخيستلی شي. ځکه چې په دې نومونو کې هم د E توری راځي.

- دا لوبه هغه وخت پای ته رسېږي چې د ۲۰ يا ۳۰ ځارويو نومونه مو راسره ټول کړل.

- ۱۰-۲۰
- دا تشريح کړئ چې ځاروي د ساينس پوهانو له نظره د هغوی د پوست،غاښونو، چېرته ژوند کوي او يا څه شی خوري طبقه بندي کېږي. له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د مختلفو ځارويو انځورونو ته وګوري او په دې فکر وکړي چې دوی ځنګه راسره يو شان دي.

لارښود:

- د موږ د لېست څخه ځینې څاروي کوم دي چې یو بل ته ورته والی لري؟ ولې راسره ورته دي؟ آیا دا ورته والی یې په پښو کې دی، یا آیا دا لامبو وهي او که الوزي؟ نورې کومې لارې دي چې موږ دوی را سره مقایسه کولی شو؟ زده کوونکو ته اجازه ورکړئ چې فکر وکړي.
- هغه کوم حیوانات دي چې ډېر توپیر لري؟ دوی څه ډول توپیر لري؟
- آیا هغه ځای چې یو حیوان ژوند په کې کوي، د هغه بڼه بدلوي؟
- څه فکر کوئ چې څاروي په ډېر یخه او ګرمه هوا کې څنګه ژوند کوي؟ د هغه ځایونو په اړه څنګه چې ډېر باران په کې کېږي؟ په هغه ځایونو کې چې ډېر لږ باران کېږي؟ زده کوونکو ته یو څو مثالونه ورکړئ: هغه څاروي چې په ډېرو یخو سیمو کې ژوند کوي لکه موش خرما او خرس په یخو میاشتو کې ویده کېږي! په ډېرو ګرمو سیمو کې لکه صحرا کې اوښ د خپلو غوړو څخه ګټه اخلي. دا په دې معنا ده چې اوښ د څو اونیو لپاره د خوراک او څښاک پرته ژوند کولی شي. همدارنګه دوی خوله نه کوي.
- هغه طریقه چې څاروي د خپل چاپېریال سره موافقت کړی د تطابق په نوم یادیږي.

**دوهمه ورځ**

نن به تاسو څاروی په دې طریقه طبقه بندي کړئ چې دوی څه شی خوري!

| فعالیت او توضیحات | وړاندیز شوې موده: |
|---|---|
| ۱۰-۵ دقیقې<br>• زده کوونکی به د ځینو لارو په هکله زده کړه وکړي دوی به څاروي د دې پر اساس چې دوی څېرته ژوند کوي او څه خوري، سره طبقه بندي کړي.<br>• له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ چې د دوی مختلف استفاده کوونکي څوک دي؟ دوی دې هغه خوړو پر اساس سره تشریح کړي چې دوی یې خوري، څاروي په لاندې ډول طبقه بندي شوي: | |

- بوټي خوړونکي: هغه ځاروي دي چې يوازې نباتات او بکتريا خوري

- ټول خوړونکي: هغه ځاروي چې هم نباتات او هم نور ځاروي خوري
- غوښه خوړونکی: هغه ځاروي دی چې نور ځاروي خوري.

**۱۰-۵ دقيقې**

له زده کوونکی څخه پوښتنه وکړئ چې هغه څه ډول مصرف کوونکی دی؟ تشريح يې کړئ. هغه کسان چې نبات خوړونکي او ويګن دي بوټي خوړونکي دي، خو هغه چې غوښه خوري غوښه خوړونکي دي. له زده کوونکو څخه وغواړي چې د هرې کټګورۍ لپاره نور مثالونه ورکړي.

۱۰-۲۰ دقيقې

د خوړو د سلسلې معرفي:

- دا تشريح کړئ چې هر ژوندي شي بل ژوندی شي خوري يا د بل ژوندی شي په واسطه خوړل کيږ!
- له زده کوونکی ته ووايئ چې د غوښه غوړونکي او هغه څه چې دی يې خوري په اړه فکر وکړي، بيا به دې فکر وکړئ چې هغه څه خوري
- دا تشريح کړئ چې هر څه چې موږ يې خورو انرژي بلل کيږي، او د خوړو سلسله موږ ته دا په ګوته کوي چې يو ژوندی شی څه ډول بل ژوندي شي ته د غذا په شکل تغير کيږي.
- تشريح يې کړئ چې ژوندي موجودات د انرژۍ د ښکار او د انرژۍ پر مصرف کوونکو باندې طبقه بندي شوي. نباتات خپله انرژي له لمر څخه توليدوي، چې هغه ورته د انرژي منبع ده. حيوانات انرژي د نباتاتو يا نورو حيواناتو په مصرف کولو سره اخلي. نو له دې خاطره، لمر د انرژي منبع ده، په داسې حال کې چې نباتات د انرژي ښکاريان دي او ځاروي هم د انرژي مصرف کوونکي دي.

مثال:



توليدکوونکی ۱ مصرف کوونکی ۲ مصرف کوونکی

**۲۰ دقيقي**

زده کوونکی به هغه پنځه کټه ګوري وليکي چې موږ ځاروي پر طبقه بندي کولی شو، د پروني لېست څخه په کار اخيستلو سره د څلورو څخه تر شپږو حيواناتو پورې له هرې کټه ګوري لاندې وليکئ.

- د اندام شمېر (لکه په انسانانو کې پښې او لاسونه)
- د الوتکو وړتيا
- د اوبو لاندې د تنفس کولو وړتيا
- په اوبو او ځمکه کې د ژوند کولو وړتيا
- د لامبو وهلو وړتيا
- هغه خواړه چې دوی يې مصرف کوي
- استوګنځای ( دوی چيرې ژوند کوي ـ ماران په صحرا، شادي ګانې په ځنګل کې ژوند کوي او داسې نور

مثالونه :

| لومړی کټګوري: په ځنګل کې ژوند کوي | دهمه کټګوري: څلور اندامونه لري |
|---|---|
| ۱. بيزو | ۱. پيشو |
| ۲. خرس | ۲. زمری |
| ۳. دېريم ځاروی | ۳. دريېم ځاروی |
| ۴. څلورم ځاروی | ۴. څلورم ځاروی |
| ۵. پنځم ځاروی | ۵. پنځم ځاروی |
| ۶. شپږم ځاروی | |

## دريمه ورځ

نن به تاسو د خپل هنری مهارتونو څخه په استفاده د خپلو ځارويو لپاره يو خونديځای جوړ کړئ

| وړانديز شوي موده: | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| **۴۰ـ ۴۵ دقيقي** | |

- زده کوونکی به د پروني لېست څخه په استفاده ځاروی رسم کړي او د قيچي په واسطه به يې يو له بل جلا کړي.

| |
|---|
| ● زده کوونکی په لومړۍ زمیمه یا هر بل کتاب، مجله، او درسي کتاب کې ژاروېو ته کتلی شي. چې په هغې کې د ژاروېو انځورونه وي. |
| ۳۰ دقیقې<br>زده کوونکی به د هغه قطعه شوو انځورونو څخه په استفاده د ژاروېو د ساتلو ځای یا ځنګل ډیزاین کړي. ټول قطع شوي انځورونه دې دغه فعالیت لپاره مه کاروئ. له زده کوونکئ څخه وغواړئ چې:<br>- پلان مو له مختلفو استوګنځایونو سره ډیزاین کړي ـ ژاروي به څېرته ژوند کوي؟ موجوده انتخابونه: شني سیمې، اوبه یا ایکوریم، صحرا ته ورته سیمه، ځنګلي سیمه. د نظرونو لپاره زده کوونکي دوهمه ضمیمه کتلی شي.<br>- هغه قطع شوی انځور په ساتنځای کې هلته چسپ کړئ چې تړاو لري. له زده کوونکي څخه وپوښتئ چې دا ژاروي په دې استوګنځای کې کوم شریک صفتونه لري. تیار وړاندیز: ایا هغه ژاروی چې تاسو صحرا ورته ټاکلي کومي مشترکې ټکي لري؟ که توپیر سره لري نو توپیر یې څه دی؟<br>- سینګار، رنګ او نور کارونه یې وکړي تر څو د ځنګل یا ساتنځای ډیزاین خلاص شي. |


## څلورمه ورځ

نن به تاسو خپل ځنګل وړاندې کړئ او په اړه به یې فیډبک هم تر لاسه کړئ.

| وړاندیز شوې موده: | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| **۲۰-۳۰ دقیقې**<br>- د کاغذ په یوه جلا ټوټه کې به زده کوونکی د ژاروېو پاتې شوي انځورونه څخه استفاده وکړي، یا به هم نوی ژاروی او نباتات رسم کړي تر څو د خوړو یو سلسله جوړه کړي.<br><br>- زده کوونکی به هر ژوندي شی په درست ځای کې چسپ او رسم کړي. | |

- زده کوونکی به په روښانه ډول سره تیرونه رسم کړي او دا به ګوته کړي چې انرژي د یو ژوندی شي څخه بل ژوندي شي ته څه ډول انتقالیږي.
- زده کوونکی به هر ژوندی شی یا مصرف کوونکی او یا د انرژي تولیدونکی ونوموي.

مثال:




سرچینه: [https://www.tes.com/lessons/cqHs1lgfbIskiQ/food-chain-references](https://www.tes.com/lessons/cqHs1lgfbIskiQ/food-chain-references)

**۱۰-۲۰ دقیقې**

زده کووکي به خپل ډیزاین شوی ساتنځای یا ځنګل خپلې کورنۍ ته وښيي او تشریح به یې کړي:

- د ښارویو د استوګنځای مختلف ډولونه
- په استوګنځای کې د هر حیوان نوم او د دوی طبقه بندي د مصرف کوونکو په توګه (بوټي خوړونکي، هرڅه خوړونکي یا غوښه خوړونکي)

- د ښارویو تر منځ د ورته والي او توپیرونو دوه یا درې مثالونه. د مثال په ډول، دواړه ماران او اوښان په صحرا کې ژوند کوي، خو مار غوښه غوړونکی او اوښ بوټي خوړونکی دی.
- دوه یا درې مثالونه دي چې مختلف ښاروي څنګه په خپل چاپیریال کې تطابق کوي.

**۱۰-۱۵ دقيقې**

والدين يا سرپرست به د پټنځای، ځنګل د ډيزاين او پرېزنټېشن په اړه خپل فيډبک ورکړي او د لومړۍ ورځې پرېکړې ته بيا کتنه وکړي چې د ښاروېو د پارک، ساتنځای او ژوبڼ په اړه وه.

- اختياري:
  - څه فکر کوئ دا ښه خبره ده چې ښاروي په ژبڼ کې وساتل شي؟ ولې او ولې نه؟
  - والدين به د دې په هکله بحث وکړي چې د ښارويو لپاره دا ځنګه ښه ده چې په وحش کې ژوند وکړي، مګر پارک، ساتنځای يا پټنځای له ژوبڼ څخه ښه دی، ځکه چې ښاروي په کوچينيو قفسچو کې نه وي اچول شوي. دوی په داسې ځايونو کې اچول شوي دي چې د دوی اصلي استوګنځای ته ورتوالی لري. دا تشريح کړي چې ښاروی په دې طريقه له ښکار کولو څخه ساتل کېږي.


## د ارزيابی معيار

- د حيوان ساتنځای، پارک يا ځنګل پوره نقشه د پنځه مختلفو ګروپونو کټګوريو او بېلابېل استوګنځيونه.
- د خواړو د سلسلې پوره نقشه د هر ژوندي موجد د نومونو سره.
- پرېزنټېشن: د ښارويو نومونه، د حيوان استوګنځايونه، د ښارويو د مصرف طبقه بندي. دوه يا درې داسې مثالونه چې ښاروي ولې سره ورته دي او توپير يې څه دی. د تطابق دوه يا درې مثالونه.

## د غني کول لپاره نوره اضافی فعاليتونه

- تاسو کولی شئ له دغې کړنې د کټګوريو د شمېرو په زياتولو څخه ډېره زده کړه وکړئ د کومو لخوا چې زده کوونکي کولی شي د ښارويو تر منځ پرتلنه وکړي.
- هدارنګه تاسو کولی شي له زده کوونکي څخه وغواړي چې د هر ښاروي په اړه دوه يا درې جملې وليکي، د پارک ليدونکي به دې ښارويو په اړه دا لنډې معلومات ولولي.

# APPENDIX 1







سرچينه

https://www.eslbuzz.com/learn-english-vocabulary-through-pictures-100-names-of-animals/

دوهمه ضمیمه

# استوګنځایونه

د هر یو استوګنځای لپاره پوره څاروی لیست کړئ

| | | |
|---|---|---|
|  په سحرا کې |  په ځنګل کې |  په فارم کې |
| | | |
|  په ځنګل کې |  په کورکې |  په بحر کې |
| | | |
|  په ډیرو یخ ځایونو کې |  په وچه دښته کې |  په غرونو کې |
| | | |

سرچینه

https://en.islcollective.com/english-esl-worksheets/material-type/fun-activities-and-games/animal s-habitats/108960